امارت اسلامی افغانستان
وزارت مالیه

*Islamic Emirate of Afghanistan*
*Ministry of Finance*
**د عوایدو او ګمرونو معینیت**
**د عوایدو لوی ریاست**
**د حقوقي خدمتونو ریاست**
**د حقوقي اسنادو د جوړېدو آمریت**

**د افغانستان اسلامي امارت**
**دماليې وزارت**

# په مالياتي اصولو کې د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله له لوري د ایجاد سوو سهولتونو د تطبيق ميکانيزم

**کال: ۱۴۴۴ هـ. ق.**

**بسم الله الرحمن الرحیم**

د معاشاتو او تشکیلاتو کمېسیون د مالیاتو د را ټولولو د اصولو د څېړنې په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د ۱۴۴۴ هـ ق کال د شعبان المعظم د ۲۵ نیټې د (۳۰۲۹) ګڼه حکم د تطبیق لپاره د مشرتابه دفتر د استازي مولوي احمد جان بلال، د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست حاجي نورالدین عزیزي او د اقتصادي کمېسیون د استازي په ګډون، د مالیې وزارت د مرستیال او اړونده ریاستونو له مسئولینو او د خصوصي سکټور (د سوداګرۍ، صنعت او کانونو، کرهنې، کسبه کارانو او د قالینو د صنعت د خونو) له استازو سره متعددې ناستې ترسره کړې. له تفصیلي بحثونو او د ټولو اړخونود نظریاتو او ستونزو له اوریدلو وروسته، د هیوادموجوده اقتصادي وضعیت ته په پام سرهخپل متفق نظر د مشرتابه عالي مقام ته وړاندي کړ، چي له نېکه مرغه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري د ۱۴۴۴ هـ ق کال د شوال المکرم د ۲۳ نېټې د (۳۷۵۸) ګڼه حکم له مخې په لاندي ډول منظور سوی دئ:

**یادونه:** په لاندي جدول کي ذکر سوي عنوانونه لاندي مفهوم وړاندي کوي:

**شمېره:** د موضوعاتو شمېر.

**موضوع:** د تجارانو او صنعت کارانو له لوري مطرح سوي ستونزي دي.

**نظر:**د معاشاتو او تشکیلاتو کمېسیون وړاندیزونه چي د مشرتابه مقام ته ئې کړي او د مشرتابه مقام له لوري هم کټ مټ منظور سوي دي.

**د موضوعاتو تشریح او د تطبیق میکانیزم:** د عوایدو لوی ریاست له لوري د دې موضوعاتو تشریح او د تطبیق میکانیزم دئ، چي ټولي مالیاتي اداري ئې په تطبیق سره مکلفي دي، چي باید د مشرتابه عالي مقام نوموړي حکم د دې میکانیزم په رڼا کي تطبیق کړي.

| شمېره | موضوع | نظر | د موضوعاتو تشریح او د تطبیق میکانیزم |
|---|---|---|---|
| ۱ | له فتحې مخکې د مالیاتي بررسیو ستونزې دې حل شي | ټول هغه بنسټونه (له بانکونو، مخابراتي او ټکنالوژي، امنیتي، هوایي، خدماتي، دولتي تصدۍ او شرکتونو | د بانکونو، مخابراتي او ټکنالوژي، امنیتي، هوایي، خدماتي، دولتي تصدۍ او شرکتونو بررسي دي د مخکنیو اصولو مطابق په پخواني شکل سره ترسره |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | پرته) چې د مالیاتي اصولو له مخې د بررسۍ وړ دي، هغوی ته دې اختیار ورکړلشي، چې که څوک د فروشاتو له سرجمع څخه ٪۰،۵ د امارت حساب ته جمع کوي او که کوم نهاد یا بنسټ په دې نورم باندې راضي نه وي، نو بیا دې په عادي ډول خپله بررسي وکړي (په دې پرېکړه کې به له فتحې مخکې ټولېد بررسۍ وړ دوسیې د اظهارنامې د وړاندې کولو له نېټې څخه تر ۵ کلونو پورې معتبر وي) | سي او پاته نور شرکتونه بیا دوه انتخابه لري یا دا چې د اظهار لیک د وړاندي کولو له نېټې څخه تر پنځو کلونو وروسته د هر کال د فروشاتو له سرجمع څخه چې د اصولو له مخې د بررسۍ وړ وي 0.5% د امارت حساب ته ورکوي او که په عادي ډول د پخوا په شان خپله بررسي کوي، چې په دې اړه لاندې میکانیزم د تطبیق وړ دئ:<br><br>۱. د بررسۍ کولو په عوض د فروشاتو له سرجمع څخه د 0.5% اخستل یوازې تر فتحې ترمخه د بررسۍ وړ دوسیې شاملې دي، له فتحې وروسته چې کومې بررسۍ کېږي، پر هغو باندی 0.5% نورم نه تطبیق کیږي، بلکې هغه بررسۍ به د اصولو له مخې په عادي توکه کېږي.<br><br>۲. د جمهوریت د وخت بررسي په دې معنی چې، هره هغه دوسیه چې د بررسۍ تابع وي د اظهار لیک د وړاندې کولو څخه وروسته پنځه کلونه ئې د بررسۍ وړ دي، او همدارنگه د دې حکم د صدور له نېټې (۱۴۰۲/۲/۲۳) څخه ترمخه پنځو کلونو پورې ټولې د جمهوریت دوخت دوسیې د دې حکم له مخې بررسۍ ته شاملېږي.<br><br>۳. تحلیل خطر او مالیاتي ادارې دي د دې حکم پر اساس ټولې د جمهوریت د وخت دوسیې، چې د بررسۍ وړ وي مشخصې او د بررسۍ په موخه دې د بررسۍ ادارې ته معریفي کړي او د بررسۍ اداره به مالیه ورکونکي ته دوه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| اختیاره ورکوي، د 0.5%نورم تطبیق او یا په عادي ډول بررسي کول.<br><br>۴. ټولو شرکتونو او ټولو مالیه ورکونوکوته چي مخکنۍ دوسیې ئې د بررسۍ وړ وي د بررسۍ له پاره که چیرې نهاد د نوي نورم 0.5%مطابق د فروشاتو له سرجمع څخه پیسې د امارت و حساب ته تحویلوي، نو د بررسۍ اداره به د SIGTAS، TAIS، AFMIS او ASYCUDA سیستمونو راپورونو او بانکي حسابونو د چک کولو څخه وروسته د نهاد فروشات تثبیتوي او د مجموعي فروشاتو څخه به ئې 0.5% وضع کوي، چي د بانکي حساب یا Bank Statement د چکېدو له پاره به ان شاءالله وړاندیز وسي او په عمومي ډول د ټولو حسابونو د چک له پاره به یو عمومي حکم واخستل سي. خو د حکم تر اخیستلو پوري باید بررسان خپل د بررسۍ چاري معطل نکړي. همدارنگه که چېري د سیستمونو د چک په پایله کید فروشاتو په سرجمع کي ډیروالی راسي نو له ډېروالي څخه ئې انتفاعي مالیه نه اخستل کېږي، صرف له تثبیت سوو فروشاتو له سرجمع څخه 0.5%اخستل کېږي.<br><br>۵. د فتحي تر مخه هغه دوسیې چي د دې حکم تر صدور ترمخه ئې بررسي سوې ده لاندي دوه حالته لري:<br><br>• کومي دوسیې چي بررسي ئې تکمیل سوې، مالیه پر تثبیت سوې او ابلاغ هم ورته سوی وي، په عادي ډول به تثبیت سوی مبلغ ځیني تحصیل سي.<br>• کومې دوسیې چي عواید ئې تثبیت اما مالیه ئې نه وي ابلاغ سوې او یا | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| هم هغه دوسيې چې ابتدايي کارونه ئې سوي اما عوايد ئې نه وي تثبيت سوي تېرولو ته دي اختيار ورکول سي چې د 0.5% نورم ته ځي او که په عادي ډول خپله بررسي کوي.<br>٦. دا چې خدماتي شرکتونه د مشرتابه مقام په حکم کي د بررسۍ د 0.5% نورم څخه مستثنی سوي دي، د عوايدو لوی رياست د تشکيل له مخي په خدماتي شرکتونو کي صرف لوژيستيکي او مشورتي شرکتونه شامل دي.<br>٧. کوم شرکتونه چې 0.5% نورم ته آماده وي ، نو موږ بايد په سيستم کي هغه اندازه عوايد لوړ کړو او د سيستم د بلانس سازي ناممکن کېدو په صورت کي مصارف Disallowedکړو، چي هم د شرکت 2% گمرکي پيش پرداخت او هم ضرر ئې صفر کړي او په څنګ کي(4%)انتفاعي ماليه او(20%)پر عايداتو باندي ماليه مساوي د 0.5% تثبيت سوي ماليې معادل سي.<br>٨. د بررسۍ پنځه کلنه دوره پر هغو ماليه ورکوونکو چي د عوايدو کتمان ئې مشهود وي (پر شواهدو بناوي) د تطبيق وړ ندي.<br>٩. د 0.5% نورم مطابق اضافه پرداخت او ضرر له منځه وړي او هيڅ راز اضافه پرداخت او ضرر، راتلونکي کلونو ته د انتقال وړ ندئ.<br>١٠. د ۱۴۰۰ مالي کال بررسي، چي تقريباً دوې ربعي ئې په جمهوريت کي او دوې ربعي ئې په امارت کي تېري سوي دي، دا چي کلنی اظهار ليک ئې | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | د امارت په کلنو کي وړاندي کړی دئ او بررسي اکثراً د کلني اظهار ليک تابع وي، نو د ۱۴۰۰ مالي کال بررسي د فتحي څخه وروسته بررسي بلل کېږي او د 0.5% نورم تابع نه ده.<br><br>۱۱. که چېری مالياتي اداره د تطبيق په وخت کي له کومي پوښتني او يا ابهام سر مخ کېږي نو کولای سي رسماً له مرکز څخه د لارښووني غوښتنه وکړي. |
| ۲ | د ۵ کلونو بررسي دې يوکلنه شي | د ماليې وزات ته دې دنده وسپارل شي، ترڅو د ۹ مياشتو په جريان کې د ۵ کلونو د بررسي موده، يو کال ته راټيټه کړي (البته د ماليې وزارت دې په ياده برخه کې د اړتيا سره سم د تشکيل د زياتوالي وړانديز وکړي) | د دې له پاره چي د بررسۍ وړ شرکتونه چي د کال په پای کي مالياتي تصفيه کوي، نو بايد په همهغه مالي کال کي ئې بررسي هم خلاصه سي نه دا چي په وروسته کلونو کي ئې بررسي وسي، چي د دې کار له پاره لاندي ميکانيزم په پلان کي نيول سوی دئ، چي ان شاءالله ژر به عملي سي:<br><br>۱. ټول شرکتونه او نهادونه به پر دوو برخو وېشل کېږي، هغه شرکتونه چي کلنی د سرمايې دوران ئې (مبلغ له محاسبې او مشورو وورسته ټاکل کېږي او په قانون کي ځای پر ځای کېږي) ميلونه افغانۍ او يا تر دې لږ وي، هغه شرکتونه به نه بررسي کيږي او د ابتدايي سنجش د طرزالعمل مطابق به د خدمتونو وړاندي کولو په اداره کي به په چک ليسټ کي د ځينو اسنادو په اضافه کېدو سره هلته خپله تصفيه کوي او تر نسبي محاسبې وروسته به خپل نهايي تحقق مکتوب به د خدماتو د وړاندي کولو له ادارې څخه اخلي، او هغه شرکتونه او نهادونه چي کلنی د سرمايې دوران ئې تر (مبلغ له محاسبې او |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | مشورو وورسته تاکل کېږي او په قانون کي ځای پر ځای کېږي) میلونه افغانۍ څخه ډېر وي، بېله دې چې د خطر د تحلیل ادارې له لوري بررسۍ ته معرفي سي، به لازمي ډول به هر کال د بررسۍ ادارې ته ځي او د هر مالي کال بررسي به ئې کېږي، چې دا میکانیزم به په قانون کي د ځای پر ځای کېدو او توشیح وروسته د تطبیق وړ وي.<br>۲. کله چې شرکت یا نهاد خپل کلنی اظهار لیک مالیاتي ادارې ته وړاندې کړي د اظهارلیک د وړاندې کولو وروسته به په همهغه کال کي ئې بررسي خلاصېږي، مثلا: احمد ساختماني شرکت غواړي چې د خپل د ۱۴۰۲ مالي کال کلنی اظهارلیک مالیاتي ادارې ته وړاندې کړي، نو شرکت مکلف دئ، چې د ۱۴۰۲ مالی کال اظهار لیک د ۱۴۰۲ کال د کب میاشتي د وروستۍ نېټې (۲۹) څخه وروسته ترتیب او د ۱۴۰۳ کال د وري میاشتي له لومړۍ نېټې څخه بیا د غبرگولي میاشتي تر وروستۍ نېټې پوري مالیاتي ادارې ته وړاندې کړي او مالیاتي اداره مکلفیت لري، چې په لنډ وخت کي د دوی کارونه خلاص او که ئې کلنی د سرمایې دوران تر (مبلغ له محاسبې او مشورو وورسته تاکل کېږي او په قانون کي ځای پر ځای کېږي) میلونو افغانۍ څخه زیات وي دوسیه په لنډ وخت کي د بررسۍ ادارې ته ولېږي او د بررسي اداره (د بررسۍ ریاست، آمریت او یا مدیریت) مکلفیت لري، چې د احمد ساختماني شرکت د ۱۴۰۲ مالي کال بررسي د ۱۴۰۳ مالي کال د کب میاشتي تر آخره (۲۹) نېټې پوري خلاصه او نتیجه صادره کړي |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ | د صنعت کارانو لپاره دې ۴٪ انتفاعي ماليه معاف شي. | د صنعت د ملاتړ او پياوړتيا لپاره دې يوازي د صنعت سکټور ته ۴٪ ربعواره انتفاعي ماليه ۲٪ ته راټيټه شي | له صنعتي سکټور څخه له (۱۴۰۲/۲/۲۳) نېټې څخه وروسته به هم په گمرکونو او هم په ربعوار اظهار ليکونو کي د ۴٪ انتفاعي ماليې پر ځای ۲٪ انتفاعي ماليه اخستل کېږي.<br>له (۱۴۰۲/۲/۲۳) نېټې څخه وروسته چي د عاليقدر امير المؤمنين حفظه د حکم د صدور نېټه ده، که چېرې له کوم ماليه ورکوونکي څخه ۴٪ ربعوار انتفاعي ماليه اخيستل سوې وي او يا هم په گمرکونو کي ورڅخه وضع سوې وي، بيرته و ماليه ورکوونکي ته د مجرايي وړ ده. |
| ۴ | د صنعت کارانو لپاره د قراردادي موضوعي ۷٪ ماليه کمول | د صنعت د ملاتړ او پياوړتياپه موخه دې زراعتي، صنعتي او تجارتي سکټورونو ته ۷٪ قراردادي موضوعي ماليه معاف شي | له (۱۴۰۲/۲/۲۳) نېټې وروسته به د صنعتي، زراعتي او تجارتي سکټورونه د خپلو فعاليتونو له پاره په آزاد بازار کي د جواز نه درلودونکو اشخاصو څخه د خريدارۍ په صورت کي صرف د ۷٪ موضوعي قراردادي ماليې په وضع کولو باندي مکلف نه دي، البته هغه شرکتونه او قراردادي چي د فعاليت جوازونه ولري او تابع د ۲٪ موضوعي قراردادي ماليې کېږي په دې حکم کي شامل نه دئ.<br>له (۱۴۰۲/۲/۲۳) نېټې څخه وروسته که چېرې له کوم ماليه ورکوونکي څخه ۷٪ قراردادي موضوعي ماليه اخيستل سوې وي، بيرته و ماليه ورکوونکي ته د مجرايي وړ ده. |
| ۵ | د خصوصي پوهنتونونو، خصوصي مدرسو او ښوونځيو سره دې په | د خصوصي پوهنتونونو، خصوصي مدرسو او خصوصي ښوونځيو لپاره ۴٪ انتفاعي ربعوار ماليه | د خصوصي پوهنتونونو، خصوصي مدرسو او خصوصي ښوونځيو او تعليمي مرکزنو له پاره صرف ۴٪ انتفاعي ربعوار ماليه يوازي د (۱۴۰۲ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | مالیاتو کې مرسته وشي | دې د یو کال(۱۴۰۲ مالي کال) لپاره معاف شي | مالي کال) لپاره معاف سوې ده.<br>که چېرې له (۱۴۰۲/۲/۲۳) نېټې حکم  څخه وروسته له کوم مالیه ورکوونکي څخه ۴٪ ربعوار انتفاعي مالیه د ۱۴۰۲ مالي کاله له پاره اخیستل سوې وي، بیرته و  مالیه ورکوونکي ته د مجرایي وړ ده. |
| ٦ | د تېلو او ګازو پمپونو د اتحادیې له لورې له فتحې نه مخکې د بررسۍ د ستونزي حل او په راتلونکي کې د مالیې د ورکړې د سهولت غوښتنه | د تېلو او ګاز پمپونو ستېشنونه دې ۰،٦ افغانۍ في لېتر ثابته مالیه د اسلامي امارت حساب ته ورکړي او همدارنګه د تېلو او ګازو د پمپ ستېشنونو اړوند د پخوانۍ اداري د وخت بررسۍ دي معاف شي | د تېلو او ګازو پمپونو ټولي له فتحی څخه ترمخه بررسۍ معاف سوي دي او له (۱۴۰۲/۲/۲۳) نېټې وروستهبه ټول پمپ ستېشنونه ۰،٦۰ افغانۍ یا ٦۰ پوله في لېتر ثابته مالیه ورکوي، چې د مالیاتي مکلفیتونو او مالیې د تثبیت له پاره ئې ځانګړې طرزالعمل ان شاءالله شریکېږي. |
| ۷ | د زرګرانو له لوري د مالیې د تخفیف غوښتنه | زرګران دي ۰،۵٪ د فروشاتو ثابته مالیه ورکړي | زرګران به د نورو اصنافو په شان د وروسته کلونو له پاره هم د تېر په شکل 0.5% د فروشاتو له سرجمع څخه ثابته صنفي مالیه ورکوي. |
| ۸ | د صرافانو د مالیې د ورکړې څرنګوالی | د مالیاتو په اړه چې د مالیې وزارت لخوا له صرافانو سره وروستی  وروستی پرېکړه تائید ده او له دې وروسته دي مالیه د اظهارنامې په وسیله ورکړي | صرافان به د ۱۴۰۲ مالي کال له شروع څخه د مالیاتي قوانینو په رڼا کي د اظهار نامې په وسیله خپل مالیات ورکوي. |
| ۹ | هغه دوسیې چې له ولایتونو څخه مرکز ته را انتقال شوې وې، خپلو ولایتونو ته دبیرته انتقال غوښتنه | د مالیې وزارت دې مؤظف شي، ترڅو هغه دوسیې چې له ولایتونو څخه مرکز ته را انتقال شوېوې، په مرکز کي د مخکنیو حسابونو د تصفیه کېد ووروسته | ټولي هغه د LTO پر معیار دوسیې چي پخوا له ولایتونو څخه مرکز ته د بررسۍ په موخه را انتقال سوي وې، تر کوم کال پورې چې په مرکز کي ئې اظهارلیک وړاندي کړی وي تر همهغه کال پوري دي خپل ټول مالیاتي حسابونه په مرکز |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | دې ببرته خپلو ولایتونو ته انتقالاو د یو خاص میکانیزم په وسیله بررسي کړي | کي صفراو بررسي ئې تکمیل کړي او له هغه وروسته دي اړوندو ولایتونو ته انتقال سي او نور کلونه به ئې په همهغه ولایتونو کي د یو خاص میکانیزم په وسیله، چي وروسته د حقوقي خدمتونو ریاست له لوري جوړیږییررسي کېږي. |
| ۱۰ | د مالیې وزارت او خصوصي سکتور ترمنځ د ستونزو د دایمي حل لپاره د ګډې، دایمي کاري کمېټې ایجادول | د مالیې وزارت او د خصوصي سکتور څلور خونې دې مکلفې کړل شي، ترڅو د دواړو لورو ترمنځ د ستونزو د دایمي حل لپاره یوه ګډه دایمي کاري کمېټه ایجاد کړي؛ ترڅو د خصوصي سکتور په مالیاتي او ګمرکي ستونزو بحث وکړي او د نه حل کېدو په صورت کې دې یادې ستونزې له مشرانو سره شریکې کړي | د عوایدو او ګمرکونو د محترم معین صاحب تر مشرۍ لاندي د عوایدو لوی ریاست، د ګمرکونو لوی ریاست او د څلورو اطاقونو د استازو ترمنځ یوه ګډه دایمي کمېټه د مالیې د وزیر صاحب له لوري د اعضاوو په تعین سره جوړېږي، چي د ټولو تجارانو او صنعت کارانو ټولو مالیاتي او ګمرکي ستونزو ته به د حل لاري پکښې لټول کېږي او د نه حل په صورت کي به ستونزي له مشرانو سره شریکېږي. |
| ۱۱ | له بررسۍ وروسته د مالیې وزارت داخلي تفتیش او د د تفتیش عالي ادارې تفتیش له لوري پر شرکتونو باندې د بېرون نویسۍ نه کولو غوښتنه | د مالیې وزارت داخلي تفتیش او د د تفتیش عالي اداره دي مؤظفه شي چې پر شرکتونو ببرون نویسي ونه کړي، بلکې د اداراتو اجراءات دې بررسي کړي، د نیمګړتیا په صورت کې دې اداراتو ته اصلاحي لارښوونې وکړي | له (۱۴۰۲/۲/۲۳) نېټې وروسته به د مالیې وزارت داخلي تفتیش او د تفتیش عالي اداره پر مالیه ورکونکو باندي وروسته له هغه چي بررسي ئې سوې وي ببرون نویسي نه کوي، بلکي د بررسۍ د ادارې اجراءات به بررسي کوي، که چېري په کومه دوسیه کي بررس سهوه، په دنده کي غفلت او یا هم فساد کړی وي، نو د تفتیش له لوري به بررس ته اصلاحي سپارښتني کېږي، بررس به تفتیش ته پر کړي کار قناعت کوونکي دلائل وړاندي کوي او یا به هم پر خپله کړې بررسي باندي بیا کتنه کوي او نوې نتیجه به مالیه ورکونکي ته صادره وي، تفتیش به د خپل اصلاحي سپارښتنو بیا ارزونه کوي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | که چېري بررس په دنده کي غفلت کړی وي تأدیبي موارد به په نظر کي ورته نیول کېږي او که چېري په موضوع کي د بررس فساد ثابت سي، نو عدلي او قضایي اورګانونو ته به معریفي کېږي. |
| ۱۲ | د هلمند ولایت د پمپ ستېشنونو د نمایندګانو له لوري د ۱۴۰۱مالي کال د مالیې په ورکړه کې د تخفیف غوښتنه | د هلمند ولایت ورستیو حالاتو او ستونزو ته په کتو سره یوازې د هلمند ولایت لپاره د ۱۴۰۱ مالي کال مالیه د ۱۴۰۰ مالي کال د مالیې په نسبت د ۵٪ زیاتوالي سره ورکړي | دا موضوع د هلمند ولایت د پمپ ستېشنو پوري اړه لري او په اړه ئې د هلمند محترم مستوفیت ته (۲۱۹) ګڼه او (۱۴۴/۱۱/۹) نېټه لیک په اساس خبر ورکول سوی دئ، نوري مالیاتي ادارې له دې موضوع سره اړه نه لري. |
| ۱۳ | د صادراتو لپاره دې پر عایداتو باندې مالیات معاف شي او پر ځای دې یې په ګمرک کې له ناخالصو عوایدو څخه ۲٪ مالیه واخیستل شي. | د دې لپاره چې افغاني صادرات نړیوالو بازارنو ته په ټیټ قیمت صادر شي او په نړیوالو بازارونو کي سیالي وکولای شي، له همدې امله موضوع کما في السابق پاتې شوه (چې د کال په پای کې د اظهارنامې په وسیله له خالصې ګټې څخه ۲۰٪ پر عایداتو باندې د مالیاتو ورکړه ده) | یو شمېر تجارانو غوښتنه کول، چي د صادارتو پر مهال دي په ګمرک کي پر صادراتو باندي ۲٪ ثابته مالیه واخستل سي او صادرات دي د کلني اظهار لیک د وړاندي کولو څخه و ایستل سي. د موضوع په اړه د صادراتو د بېلا بېلو سکټورونو د استازو سره اختصاصي مجلسونه و سول، چي په نتیجه کي د صادراتو د ټولو تجارانو سره په اتفاق داسي تصمیم ونیول سو: (د دې لپاره چي افغاني صادرات نړیوالو بازارنو ته په ټیټ قیمت صادر شي او په نړیوالو بازارونو کي سیالي وکولای شي، له همدې امله موضوع کما في السابق پاتېشوه).<br><br>نو بناءً ټولي مالیاتي ادارې مکلفي دي، چي د دې موضوع په اړه لکه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | خرنگه چې مخکې تعامل وو او هر صادراتي شرکت خپل کلنی اظهارلیک د کال په آخر کی وړاندې کاوه او د واقعي مفاد یا گټې په صورت کې به د ۲۰٪ پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع گرځول کېدئ اوس هم همهغه سې تعامل وکړي. |
| ۱۴ | سوداگرو او صنعت کارانو ته دې په هر زون کې د پاسپورټونو د توزیع سهولتونه برابر شي. | په مرکز کې یاده ستونزه حل شوې ده او اړونده اداري کوښښ کوي چې لومړی په زونونو او وروسته د ټولو ولایتونو په مرکزونو کې یاده ستونزه حل کړي. | د دې موضوع په اړه د مالیې وزارت د اړوندو ذیدخلو وزارتونو (کورنیو چارو وزارت او د سوداگرۍ او صنعت وزارت) سره پوره همکاري کوي. |
| ۱۵ | د سوداگرو او صنعت کارانو د ویزو ستونزه | د بهرنیو چارو او سوداگرۍ او صنعت وزارتونه دې مؤظف شي، ترڅو یاده ستونزه د ټولو اړوندو هېوادونو له سفیرانو سره شریکه کړي، چې په پایله کې یې د سوداگرۍ او صنعت کارانو د ویزو ستونزه حل شي. | په دې برخه کې هم د مالیې وزارت د اړوندو ذیدخلو وزارتونو (د بهرنیو چارو وزارت او د سوداگرۍ او صنعت وزارت) سره پوره همکاري کوي. |
| ۱٦ | د ربعوارې مالیې د له منځه تللو او د کال په آخر کې یې د ورکړې غوښتنه | د ربعوارې مالیې او اظهار نامې د ورکړې موضوع له هراړخیز بحث وروسته د امارت په خزانه کې د پیسو د کلني جریان په موخه،په مخکني حالت پاتې شوه | موضوع روښانه ده او له ټولو نهادونه څخه دي د پخوا په شکل ربعوار انتفاعي مالیه په هره ربعه کي اخستل کېږي او هم دي تجارتي شرکتونه خپل ربعوار راپورونه د پخوا په شکل وړاندي کوي. |
| ۱۷ | د کوچنیو فابریکو لپاره دې په مالیات بر عایدات کې تخفیف وشي | له هر اړخیز بحث وروسته د صنعت کارانو قناعت حاصل شو او د ټولو فابریکو لپاره ۲۰٪ مالیه برعایدات | ټولي کوچنۍ او لوی فابریکې به ببله فرقه ۲۰٪ پر عایداتو باندي مالیات ورکوي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | پر خپل حالت پاتې شول | |
| ۱۸ | د کرایې د موضوعي مالیې د معافیت غوښتنه | د کرایې مالیه موضوعي مالیه ده، چي له جایداد څخه اخیستل کېږي او کرایه نیشین یې د جایداد له مالک څخه وضع کوي او د هغه په نیابت یې د امارت حساب ته داخلوي، چي دا مالیه اصلاً د کرایه نیشین مالیه نه ده، بلکي د جایداد د مالک مالیه ده، نو باید له هغه څخه وضع او د امارت حساب ته جمع شي، البته کوښښ به داوي چي ټول د کرایې قراردادونه د معاملاتو لارښوونې دفترونو له لوري ترسره شي، چي د اوس لپاره د امارتي ادارو او معتبرو لویو شرکتونو (چي د مالیې وزارت ئې معتبر بولي) له لوري تر سره کېدونکي د کرایې قراردادونه چې په مسئولیت سره بې ترسره کړي وي او مسئولیت یې هم دوی ته راجع وي معتبر شمېرل کېږي | د کرایې موضوعي مالیه دي د پخوا په شکل په همهغه نورمونو اخستل کېږي، صرف د کرایې د قرارداد په اړه دي اولویت هغه قراردادونو ته ورکول سي، چي د معاملاتو لارښووني دفترونو له لوري د عدلیې وزارت په رسمي سیټه کي تر سره سوي وي. که چېري د امارتي ادارو له لوري د کرایې قرارداد تر سره سوي وي هغه دي هم معتبر وشمېرل سي. او د هغو لویو معتبرو شرکتونو له لوري د کرایې قراردادونه هم د اعتبار وړ دي، چي مالیاتي اظهار لیک ئې پر خپل وخت وړاندي کړی وي او مالیات ئې هم پر خپل وخت پرته له کتمان څخه د امارت حساب ته جمع کړي وي، چي د قرارداد مسئولیت به په هر صورت کي په پورته دروسرو مرجعو اړه لري.<br><br>پرته له پورته درو مرجعو څخه نور عرفي د کرایي قراردادونه د اعتبار وړ نه دي. |
| ۱۹ | سوداګرو او صنعت کارانو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه دې | سوداګرو او صنعت کارانو ته د اسانتیاوو رامنځته کولو په برخه کې ټولې اړوندې امارتي ادارې | په دې برخه کي د مالیې وزارت د اړوندو ذیدخلو ادارو سره پوره همکاري کوي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | په ټولو بندرونو کې د اسان خدمت یا چتر واحد مرکزونه پرانیستل شي | مکلفې دي، ترڅو په ټولو بندرونو کې د اسان خدمت یا چتر واحد مرکزونه په ګډه فعاله کړي او کاري وخت به يې د ګمرکونو د کاري وخت تابع وي چې څو ساعته ګمرک کار کوي، هغومره وخت دې یاد مرکزونه هم فعال وي، تر هغه وخته چې د اسان خدمت یا چتر واحد مرکزونه فعاله کېږي، اړوند اورګانونه چې په محصول کې داخل دي (لکه د افغانستان بانک، د نورم او سټنډرډ ملي اداره، د نفت او ګاز امارتي شرکت، د کورنیو چارو وزارت کمیساري، د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت، د دوا او غذا ملي اداره) چې ورځنی کاري وخت يې د ګمرکونو د کاري وخت تابع دي. | |
| ۲۰ | مالي جرمانې دې نه اخیستل کېږي | مالي جرمانې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د حکم پر بنسټ له مخکې څخه معاف شوي دي او اوس مهال هیڅ نوع مالي جرمانه نه اخیستل کېږي. | د مالي جرمانو په اړه (۴۴۶) ګڼه او (۱۴۴۴/۵/۲۸) نېټه متحدالمال مخکې خپور سوی دئ، په اړه دي ئې لازم اجراءات وسي. |
| ۲۱ | په کندهار کې د یو زراعتي بانک (سرې خونې) د جوړېدو غوښتنه، | د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ته دې دنده ورکړل شي چې د خصوصي سکټور په همکارۍ د | په دې برخه کې هم د مالیې وزارت د ذیدخلو ادارو سره حتی الامکان مرسته او همکاري کوي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | ترخو تازه مېوې او سبزیجات په کې و ساتل شي | هېواد په مختلفو ولایتونو کې شته سړې خونې فعاله او د نویو خونو د ودانولوپه موخه اقدام وکړي. | |
| ۲۲ | په بانکونو کې د سوداګرو د بندو پیسو ستونزه | د بانکونو د موجوده حالت په نظر کې نیولو سره دې د پیسو په اجراء کولو کې دې تدریجي اقدام وشي | په دې برخه کې هم د مالیې وزارت د ذیدخلو ادارو سره حتی الامکان مرسته او همکاري کوي. |
| ۲۳ | د هلمند ولایت د پمپ سټېشنونو د نمایندګانو له لوري په اسیکوډا کې د نفت او ګاز امارتي شرکت د ۲۰ پوله حق الخدمت فیس اخیستلو غوښتنه | د نفت او ګاز امارتي شرکت به کوښښ کوي، چې د تېلو د واردوونکو تجارانو سره د تفاهم په صورت کې خپل هغه ۲۰ پوله حق الخدمت فیس په ګمرکونو کې د اسیکوډا سیسټم له لارېورکړي | دا موضوع تر اوسه همداسي پاته ده، کله چي د نفت او ګاز امارتي شرکت ئې په اړه اجراآت وکړل، نو ټولو مالیاتي ادارو ته به ئې په اړه ان شاءالله خبر ورکول سي. |
| ۲۴ | د مالیې وزارت او تجارت او صنعت وزارت د همکارانو ترمنځ د ګډو مسائلو د حل غوښتنه | په راتلونکي کې د تجارت او صنعت د پیاوړتیا، د کمېشنکارانو د له منځه تللو او جوازونو د توزیع د کیفیت لوړولو او معیاري کولو لپاره لاندې ګډ تصمیمونه ونیول شول:<br><br>1. دجوازونو د کیفیت لوړولو لپاره چې کومه کمېټه مخکې ایجاد شوې وه دوامداره او نور دې تقویه شي؛<br><br>2. د جوازونو د توزیع لپاره دې په چټکۍ سره د | په ۲۵ شمېره کي ټول درج ۱۷ موضوعات د مالیې وزارت اړوند د عوایدو لوی ریاست او د سوداګرۍ او صنعت محترم وزارت سره ګډ موضوعات دي، چې د دواړو وزارتونو ترمنځ یو ګډ میکانیزم ته اړتیا لري، چې ان شاءالله د دواړو وزارتونو ترمنځ په موافقه به جوړ او وروسته د ټولو مالیاتي ادارو سره شریک سي. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | تجارت او صنعت وزارت له لوري جوړه شوې د چترواحد طرحه تائید او تطبیق شي؛<br>3. د جوازونو د توزیع لپاره دې د متخصصینو کمېټه جوړه شي، ترڅو د تجارتي سکتور په شمول هر سکټور ته د جواز د ورکولو نه مخکې د دوی ترتیب شوی تجارتي (بزنس پلان) ارزیابي کړي؛<br>4. د جوازونو د معیاري توزیع لپاره دې د دواړو وزارتونو(مالیې او صنعت او تجارت) برېښنایي سیستمونه یو له بل سره وصل شي؛<br>5. د تجارتي جواز اخیستلونه مخکې اخیستونکی بایدپنځه لکه افغانۍ په بانکي اکاونټ کې د تضمین په شکل بلاک کړي؛<br>6. د جوازونو د ورکړي په وخت کي دي برېښنايي تذکره چي د احصایې د مرکز له لوري تائید شوې وي درلودل شرط شي؛ | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | 7. د جواز د ورکړې په وخت کې د مالیه ورکونکي تشخیصیه شمېره یا TIN، د بنسټ په نامه د اړیکې فعاله شمېره، د بنسټ په نامه برېښنایي آدرس، د بنسټ پستي او د دفتر دقیق ادرساو د بنسټ په نامه ځانګړی بانکي حساب، چې یوازې د بنسټیا شرکت پیسې ورته راشي( نه غیر تجارتي پیسې) شرط کول؛<br>8. جعلي جوازونه چې په هره اداره (ګمرکونو، مستوفیتونه او نورو ادارو) کې پیدا شول هلته دي قید او عاملین دې یې عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفیشي او که جوازونه د تخلف له پاره کارېدل، نو جوازونه او مالکین دیې په تور لیست کي شامل شي، ترڅو په راتلونکي کې د جوازونو د ورکړې حق ترې صلب شي او عاملین دي یې عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي؛<br>9. په سرعت سره د جوازونو د ورکړې لپاره دې د جواز د ورکړې په مرکز کې د احصایې | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | محترمې ادارې ته یوه شعبه د برېښنایي تذکرو د جوړېدو له پاره ځانګړې کړل شي، ترڅو د احصایې د ادارې له لوري د برېښنایي تذکرې د ورکړې ځانګه فعاله شي؛<br>10. په ګمرکونو کې د اسنادو د طی مراحل کولو لپاره دې حد اکثر یو نماینده د دریو شرکتونو لپاره اسناد طی مراحل کړي؛<br>11. (Know your customer) یا د مشتریانو پیژندلو فورمه، چې په هغه کې د دواړو وزارتونو مشتریان چې جوازونه ئې اخیستي او مالیه ورکوي له سره را غونډل کېږي او موجودیت یې تثبیتېږي باید جوړه او عملي شي؛<br>12. د کاري چټکتیا او مراجعینو ته د سهولت په موخه دې د دواړو وزارتو ترمنځ د مراسلاتود برېښنایي کېدو له پاره دې میکانېزم جوړ او عملي شي؛<br>13. د ملکیت ذي نفع په برخه کې دې د مالیې وزارت همکارانو ته د تجارت او صنعت وزارت د همکارانو | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | له لوري معلومات ورکړلشي؛<br>14. د جوازونو د صادرېدو نېټه دې په گمرکونو او مالياتي ادارو کې ثبت شي، ترڅو د مجاز نېټې له پوره کېدو وروسته د هيڅ فعاليت اجازه ور نه کړي؛<br>15. زاړه جوازونه چې پخوا صادر شوي دي او کلونه کېږي چې تمديدشوي نه دي، د مشخص کېدو لپاره دې يوه گډه کاري کمېټه جوړه او بيا دې د يادو جوازونو د لغو کېدو لپاره د دواړو وزارتونو د مطبوعاتي کنفرانس له لارې، ددې شرکتونو مسئولينو ته وخت ورکول شي، ترڅو د ټاکلي وخت له پوره کېدو ترمخه خپل مسئوليتونه خلاص او يا دې هم خپل غير فعالشرکتونه فعال کړي، د وخت د پوره کېدو په صورت کې به بيا دواړه وزارتونه د لغوه کېدو تصميم نيسي؛<br>16. د کرهنې، اوبو لگولو او مالدارۍ وزارت دې(Fumigation)يادوا شيندل دې اختياري کړي نه اجباري؛ | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | 17. د عوایدو د ډېرېدو لپاره دې د مالیې وزارت له لورې د تجارت او صنعت وزارت ته د عوایدو سرچینې وښوول شي، ترڅو یاد وزارت لا ډېر عواید راټول کړي. | | |

**یاونه:** په پورته جدول کې ټول ذکر سوي موارد د پورته میکانیزم په رڼا کې د عالیقد امیرالمؤمنین حفظه الله د (۳۷۵۸) کڼه او (۱۴۴۴/۱۰/۲۳)نېټه حکم پر اساس لـه (۱۴۴۴/۱۰/۲۳) نېټې څخه چې له (۱۴۰۲/۲/۲۳) نېټې سره سمون لري په ټولو مالیاتي ادارو کې د تطبیق وړ دي.

**په درنښت**

**نور الله حبیب**
**د حقوقي اسنادو د جوړېدو آمر**

**نداءمحمد صدیقي**
**د عوایدو د حقوقي خدمتونو رئیس**

**انجنیر خان محمد ذاکر**
**د عوایدو د بررسی رئیس**

**عبدالولي نوري**
**د عوایدو تخنیکي مرستیال**

**معراج محمد معراج**
**د عوایدو عملیاتي مرستیال**

**الحاج شیرمحمد مشفق**
**د عوایدو لوی رئیس**

**د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله د فرمان د تطبیق په موخه نوموړی میکانزم منظوروم.**

**۱۴۴۴/۱۱/۱۴**

**ملا عبدالقاهر ادریس**

**د عوایدو او گمرکونو معین او د وزارت کفیل**